# آیا پوهیږئ چې رب مو څه ویل؟» هغوی ویل: الله او رسول یې ښه پوهیږي، ویې فرمایل: زما بنده ګانو پداسې حال کې سهار کړ چې ځیني له دوی څخه پر ما ایمان لرونکي او ځینې نور یې کفر کوونکي دي

له زید بن خالد الجهني رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمایلي دي: صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ عَلَى إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلَةِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: «هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟» قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ، فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ، وَأَمَّا مَنْ قَالَ: بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا، فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ». پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - مونږ ته په حدیبیه کې د سهار لمونځ راکړ پداسې حال کې چې د شپې باران وریدلی و، نو کله یې چې سلام وګرځاوه، خلکو ته یې مخ کړ او ویې فرمایل: « آیا پوهیږئ چې رب مو څه ویل؟» هغوی ویل: الله او رسول یې ښه پوهیږي، ویې فرمایل: زما بنده ګانو پداسې حال کې سهار کړ چې ځیني له دوی څخه پر ما ایمان لرونکي او ځینې نور یې کفر کوونکي دي ، نو هغه چا چې ویل: د الله په فضل او رحمت پر مونږ باران وشو، نو دا پر ما ایمان لرونکی او په ستورو کفر کوونکی دی او هغه چا چې ویل: د فلاني او فلاني ستوري - د راښکاره کېدو - له امله پر مونږ باران وشو، نو دا پر ما کافر او په ستورو ایمان لرونکی دی«.

[(صحیح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د سهار لمونځ په حدیبې کې وکړ – چې مکې ته نږدې یو کلی – دی، پداسې حال کې چې په هغه شپه باران وریدلی و، نو کله یې چې سلام وګرځاوه او لمونځ یې پای ته ورساوه، خلکو ته یې مخ وروګرځاوه او ویې ویل: آیا تاسو پوهیږئ چې ستاسو رب العزت څه ویلي؟ نو هغوی ځواب ورکړ چې: الله او رسول یې ښه پوهیږي، نو ویې فرمایل: الله جل جلاله خلکو ته څرګنده کړه چې د باران پر مهال خلک په دوو ډلو ویشل کیږي: یوه ډله هغه ده چې په الله ایمان لري او بله یې هغه ده چې په الله تعالی یې کفر کړی دی. نو هغه چا چې ویل: پر مونږ د الله په فضل او رحمت سره باران واورید او د باران ورولو نسبت یې الله تعالی ته وکړ، نو هغه په الله؛ خالق ذات چې د کائناتو په چارو کې تصرف کوونکی دی ایمان لرونکی او په ستورو کافر دی. او هغه چا چې ویل: د فلاني او فلاني ستوري - په راښکاره کېدو - سره پر مونږ باران وشو؛ نو دی په الله تعالی کفر کوونکی او په ستورو ایمان لرونکی دی او دا کو چنی کفر دی ځکه چې د باران د ورولو نسبت یې ستوري ته وکړ؛ حال دا چې الله تعالی ستوري د باران ورولو لپاره شرعي او تقدیري سبب ندی ګرځولی، او چا چې د باران ورولو او داسې نورو ځمکنیو حوادثو او د ستورو د خوځښتونو؛ راختلو او لوېدلو نسبت همدې شیانو ته وکړ، پدې باور چې - د دې - کارونو حقیقي تر سره کوونکي همدا ځیزونه دي، نو دې انسان لوی کفر کړی دی.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee